# شپږم لېکچر کره کتنه {تنقید}

دریم سمسټر
پښتو ډیپارټمنټ
یونیورسټي آف بلوچستان کوئټه

# د کره کتني مکتبونه

- کره کتنه موږ ته معلومه ده چي و څه ته وائي لومړی به
- دا معلوم کړه چي مکتب و څه ته وائي د مکتب جمع
- مکاتب دی .
- په ادبیاتو کښي په عامه اصطلاح کښي یو لفظ مستعمل دی
- د سبک په نامه سره .سبک په فني اعتبار و طریقه کار
- روش چي په انګریزي کښي ورته سټائل وئیل کیږي
- مکتب چي په انګریزي کښي ورته {سکول اف ټهات}

- وئيل کيږي يعني د فکر و ښکاره کولوته  وئيل کيږي
- موږ وئيلائي سو چي سبک هيئت {غالب} او مکتب په غالب
- کښي دننه و موادو ته وئيل کيږي لکه موږ وايو د خوشحال
- مکتبه فکر د رحمان مکتبه فکر د حميد مکتبه فکر
- د دې مطلب دا دې چي غالب که هر يو وي مګر فکر يې
- په دې مکتبو کښي د يوه سره اړيکه لري موږ يې د هغه
- مکتبه فکر بولو
- دلته موږ د مکتب په حواله صرف مختصره خبره وکړه

- په عامه توګه د تنقید دوه قسمونه دی
- نظري تنقيد    او عملي تنقيد
- نظري تنقيد . په نظري تنقيد کښي د ادب په مختلفو اصنافو
- او لوازماتو د فن ‘جوړښت او معيار د پاره اصول ټاکل
- کيږي مقصد په دې قسم تنقيد کښي فارموله جوړيږي
- “نظری تنقید اصول سازی سے عبارت ھے اس میں ادب
- اور فن سے وابستہ مسائل کا جائزہ لیتے ہوئے ادبی
- قدروں کی چھان پھٹک سے تخلیقی معائیر کا تجزیہ کیا جاتا
- ھے “ ډاکټر سليم اختر .تنقيدي دبستان
- 

- نظري تنقيد د ادبي اصنافو د پاره اصول وضع کوي
- باالخصوص د تنقيد چي کوم مکتبونه دي د هغوئ
- تاکل سوی اصول هم د نظرۍ تنقيد نتيجه ده .
- عملي تنقيد .
- لکه څنګه چي د نامه څخه معلوميږي
- عملي تنقيد و هغه تنقيد ته وئيل کيږي چي په هغه کښي
- پر ټاکل سوو اصولو باندي عمل کيږي
- کوم اصول چي په نظري تنقيد کښي ټاکل کيږي
- په عملي تنقيد کښي پر هغه باندي عمل کيږي

- “ د تنقید اصلی دوه قسمونه په حقیقت کښي هم دغه نظری
- تنقید او عملی تنقید دی چي نور ټول تنقیدي مکتبونه
- په کښي شامل دی .دغه دبستانونه یا مکتبونه بیا په
- خصوصي توګه د عملی تنقید برخه ګڼلے شی “
- حنیف خلیل . تنقید په پښتو ادب کښي
- د تنقید ټول مکتبونه وورسته په دغه دوو قسمونو کښي
- د ننه دي یعني نظري تنقید اصول جوړه وي او عملي
- تنقید پر هغه اصولو باندي کار کوي

“عملي کره کتنه د شعر او ادب جایزه د نظریاتي کره کتني
په جوړ شوو اصولو باندي اخستلو ته وائي .د یوې فن پارې
د قدر تعین د یوې نظرئي په رڼا کښي کولو ته عملي کره
کتنه وائي “ ډاکټر نصیب الله سیماب . د کره کتني
اصلاحات ص ۲۶۵

په نظري تنقید کښي عموماً د ادب د فن پارو د جوړښت
په حواله بحث کیږي .د فن پارو قدرونه معلوموي او و هغو
ته اصول او طریقه کار وضع کوي په اصل کښي نظري تنقید د تنقید د
پاره په خپله یو تنقید ګڼلائ سو

•

له دې بحث څخه وورسته موږ په دې نتیجه رسیږو

چې نظري تنقید و هغه تنقید ته وئیل کیږي چې په هغه

کښي د فنپارو د جوړښت په حواله قوانین جوړیږي

ځکه چې عملي تنقید هم په دې تعریف کښي د ننه راځي

عملي تنقید په دغه جوړو سوو اصولونو باندي عمل کوي

د تنقید دغه دوې څانګي د ټولو تنقیدي مکتبونو احاطه کوي.

په درناوي

پای